د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمی چارو معاونیت

سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث ماستری پروګرام


# امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې يې تګلاره

(د ماسترۍ رساله)


محصل: وحيدالله ( وحيدي)

لارښود استاد: دوکتور نصرمن الله (مجاهد)



تحصيلی کال : ۱۴۰۲لمريزکال

موافق ۱۴۴۵هجري قمري

د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمی چارو معاونیت

سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث ماستری پروګرام


# امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې يې تګلاره

(د ماسترۍ رساله)


محصل: وحیدالله ( وحیدي)

لارښود استاد: دوکتور نصرمن الله (مجاهد)


تحصیلی کال : ۱۴۰۲لمریزکال

موافق ۱۴۴۵هجري قمري

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

د شرعیات اوقانون پوهنځی

د تفسیر و حدیث دیپارټمنټ

د ماسټری بورد

## تــــصـديــق نـــــامـــــه

ښاغلی وحید الله د مولوي زلمي زوی د ID: SH-MST-S1400-783 نمبر لرونکی، د تفسیر و حدیث د اومې دورې محصل د ماسټرۍ مرحلې رساله چې عنوان یې: امام عبدالرزاق صنعاني او په مصنف کې یې تګلاره د یکشنبه ورځ په ۱۴۰۲/۱۲/۲۷ هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۰ (نمره په عدد) نوي نوی (نمره په حروفو) مستحق وګرځید.

له الله تعالی څخه ورته د لازیاتو بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | د استاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور عبدالباري حمیدی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور فصیح الله عبدالباقی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور نصرمن الله مجاهد | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسټری د بورد آمر ________

علمی مرستیال ________

# خلاصه

امام عبدالرزاق رحمه الله په (١٢٦) هجري کې دیمن د صنعاء په ښار کې زیږیدلې دی او په (١۴٦) هجري شاوخوا کې یي د معمربن راشد او نورو معتبرو او ثقه استادانو څخه دhحادیثو زده کړه پیل کړی ده او په علم حدیث کې مرجع وګرځید.

امام عبدالرزاق بن همام رحمه الله په دا سې وخت کې وزیږلو چې د اکابرو تابعینو زمانه تیره شوی وه او د ا صاغرو تابعینو[1] ورو ستۍ ورځې وي او دتبع تابعینو زمانه وه. امام عبدالرزاق په دا سې وخت کې نړۍ ته سترګې وغړولې چې دحادیثو مدرسې په حجاز ، عراق، شام او مصر کې موجود وې او په یمن کې د معمر بن راشد د آحادیثو حلقې ته د هر لورې محدثین راتلل.

امام عبدالرزاق رحمه الله خپلې لومړۍ زدکړې د معمر بن راشـــد د مجلس څخه پیل کړی او بیا یي د خپلې علمي پانګې د زیاتوالی لپاره حجاز ته، شام او عراق ته سفرونه وکړل.

امام عبدالرزاق رحمه الله لکه د اهل سنت والجماعة د نورو امامانو په شان د صحابه کرامو او تابعینو امامانو په څیر عقیده در لوده او د شـیعه توب کوم نسـبت چې ورته شـوی دی هغه د تاویل وړ دی او د اهل بیتو سره د محبت له امله ورته مؤلفینو شیعه ویلی دی چې د هغه د معاصرو خلکو له خوا شوی خبره ده.

امام عبدالرزاق رحمه الله په فقه کې د کوم امام شـخصيـ تقلید نه کولو بلکې د هغه وخت د نورو علماوو په شـان د دلیل تابع ؤ او په فقهي مسائلو کې یي خپله رایه درلودله لکه چې دا خبره د هغه د کتاب مصنف څخه معلومیږي.

د امت علمای کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو ، د صحابه کرامو د اقوالو، دتابعینو او تابع تابعینو او نورو ســـلفو علماوو داقوالو په ثبت او تدوین باندې زیات حریص ؤ، همدا وجه ده چې زمونږ زمانې ته لوی لوی د علم او پوهې ذخیرې رارسیدلي دي او مونږ ورڅخه په ا سانه سره ا ستفاده کوو چې ددغو ا سفارو او مدوناتو څخه یو هم د

1-اصاغر دتابعینو هغه تابعین دي چې د د وړوکوالي له وجی یې صحابه نه دي لیدلي ؛ مګر هغه صحابه یې لیدلي دي چې په وروستي وخت کې وفات شوي دي او له هغوی څخه یې احادیث روایت کړي چې هغه محدودی تعداد دی لکه چاچې د انسبن مالک ، یا سهل ین سعد او د ابو امامه باهلي سره ملاقات شوي وي ، او داصاغرو تابعینو به اکثره روایات له اکابرو تابعینو څخه کړي دي، لکه محمدبن سعدبن أبی وقاص الزهری(ت:١٣۴هـ) او موسی بن عقبه (ت:١۴١هـ).تحریر علوم الحدیث (2 /930)، لسان المحدثین(3 /208).

امام عبدالرزاق رحمه الله مصنف دی چې د ډیرو فایدو څخه ډک دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر احادیثو، د صحابه کرامو پر اقوالو او دتابعینو پر ویناوو باندې مشتمل.

دامام عبدالرزاق مصنف د هغو کتابونو له جملې څخه یو مهم کتاب دی چې په احادیثو کې داسلامي تاریخ په دوهمه پیړۍ کې لیکل شوی دی او د وروستنو مصنفینو لپاره د لومړۍ مرجع په حیث پیژندل کیږي.

امام عبدالرزاق په خپل دغه قیمتي مصنف کې په فقهي موضوعاتو پورې تړلې نبوي احادیث او د صحابه کرامو اقوال او دتابعینو اقوال راټول کړي دي.

امام عبدالرزاق رحمه الله مصنف له ړندیدلو څخه مخکې په یمن کې لیکلی دی.

امام عبدالرزاق رحمه الله مصنف په خپله لیکلی دی او زیاتو علماوو دامام عبدالرزاق څخه د احادیثود اوریدلو لپاره یمن ته سفرونه کړي دي او له هغه څخه یې مصنف اوریدلی دی.

علماء کرامو د امام عبدالرزاق رحمه الله د مصنف په ځانګړي ډول ستاینه کړې ده.

دامام عبدالرزاق رحمه الله مصنف د متابعاتو، موقوفو، مقطوعو او مرسلو احادیثو د پیداکولو لپاره غوره مرجع ده.

امام عبدالرزاق رحمه الله د خپل مصنف دلیکلو لپاره کوم شرط نه دی ذکر کړی خو د څیړنې څخه معلومیږي چې دامام عبدالرزاق رحمه الله مصنف رجال اکثره د امام بخاري او امام مسلم رجال دي او ضعیفه راویان په کې ډیر کم دي چې هغه ضعیفه راویان په هغه اندازه ضعیفه نه دي چې احادیث یې ونه لیکل شي.

امام عبدالرزاق رحمه الله خپل شیوخ یو پر بل عطف کوي. چې د شیوخو د عطف څخه د هغه مقصد اختصار دی او هغه راویان چې امام عبدالرزاق یې په خپلو شیوخو عطف کوي هغه یا ثقه وي او یا هغه څوک وي چې د هغه حدیث د لیکلو قابلیت لري.

# د موضوعاتو فهرست


مقدمه ........................................................................ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د موضوع اهمیت او ارزښت........................................... ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د موضوع د انتخاب لاملونه........................................ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د لیکنې اهداف او موخې ............................................ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د څېړني اصلي او فرعي پوښتنې:................................... ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د موضوع اړوند پخوانۍ لیکنې او آثار .............................. ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د څیړنې تګلاره ........................................................... ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د لیکنې په وخت کې ستونزې او مشکلات ........................... ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د څیړنې پلان او خطه ................................................... ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

تمهید ....................................................................... ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.


## لومړی فصل

### کلیات

### د امام عبدالرزاق پیژندنه


لومړی مبحث: د امام عبدالرزاق رحمه الله پیژندنه................ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

لومړی مطلب: نوم او کنیه يې.................................................. Error! Bookmark not defined.

دويم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله زوکړ.......................... Error! Bookmark not defined.

دریم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله کورنۍ........................ Error! Bookmark not defined.

څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله زده کړه..................... Error! Bookmark not defined.

پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله سفرونه........................ Error! Bookmark not defined.

شپږم مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله علمي القاب او علمي مرتبهError! Bookmark not defined.

اووم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله وفات ......................... Error! Bookmark not defined.

دويم مبحث: دامام عبدالرزاق رحمه الله سیاسي او علمي ژوند ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

لومړی مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله په وخت کې د اسلامي نړۍ سیاسي حالات او اوضاع **Error! Bookmark not defined.**

دویم مطلب: پر حدیث باندې د سیاسی حالاتو اغیزې............. **Error! Bookmark not defined.**

دریم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله پر وخت کې د موضوعي احادیثو جوړول **Error! Bookmark not defined.**

څلورم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله علمي ژوند ته کتنه .... **Error! Bookmark not defined.**

دریم مبحث : دامام عبدالرزاق استاذان اوشاګردان یی............ **ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.**

لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق استاذان............................... **Error! Bookmark not defined.**

دویم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله شاګردان.................... **Error! Bookmark not defined.**

څلورم مبحث: دامام عبدالرزاق په اړه دعلماوو څرګندونی......... **ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.**

لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق رحمه الله اختلاط. ................. **Error! Bookmark not defined.**

دویم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله شیعه توب................. **Error! Bookmark not defined.**

دریم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله تدلیس. ...................... **Error! Bookmark not defined.**

پنځم مبحث: دامام عبدالرزاق رحمه الله تالیفات................. **ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.**

## دوهم فصل

## دامام عبدالرزاق تګلاره په مصنف کې

لومړی مبحث: دمصنفاتو پېژندنه ...................................... **ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.**

لومړی مطلب: د مصنف معنی او مفهوم ................................ **Error! Bookmark not defined.**

دوهم مطلب: د مصنفاتو او سننو او د احادیثو د نورو کتابونو تر منځ توپیر**Error! Bookmark not defined.**

دریم مطلب: د مصنفاتو شمېر............................................... **Error! Bookmark not defined.**

دوهم مبحث: د د امام عبدالرزق الصنعاني دمصنف پېژنده ....... **ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.**

لومړی مطلب: د مصنف د لیکلو لاملونه ................................ **Error! Bookmark not defined.**

دوهم مطلب: د مصنف عبدالرزاق رحمه الله د لیکلو پړاوونه ....... **Error! Bookmark not defined.**

درېیم مطلب: د مصنف اسانید او راویان ................................ **Error! Bookmark not defined.**

څلورم مطلب: د مصنف موضوعات او محتويات ...................... Error! Bookmark not defined.

پنځم مطلب: د مصنف د احاديثو شمېر ................................ Error! Bookmark not defined.

شپږم مطلب: د مصنف په اړه د علماوو نظرونه.......................... Error! Bookmark not defined.

اووم مطلب: د مصنف مخطوطې او چاپ شوې نسخې.............. Error! Bookmark not defined.

اتم مطلب: : د امام عبدالرزاق رحمه الله د مصنف مصادر........... Error! Bookmark not defined.

دريم مبحث په مصنف کې د امام عبدالرزاق تګلاره ................ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

لومړی مطلب: د امام عبدالرزاق شروط  په مصنف کې.............. Error! Bookmark not defined.

دوهم مطلب: په سندونو کې دامام عبدالرزاق تګلاره. ................ Error! Bookmark not defined.

دريم مطلب: د امام عبدالرزاق حديثي صناعت......................... Error! Bookmark not defined.

څلورم مطلب: د امام عبدالرزاق نور مختلف منهجونه: ............... Error! Bookmark not defined.

پنځم مطلب: دامام عبدالرزاق رحمه الله فقهي تګلاره................ Error! Bookmark not defined.

د دوهم فصل خلاصه : ....................................................... Error! Bookmark not defined.

نتائج ........................................................................................................ 7

پيشنهاد...................................................................................................... 11

د آياتونو فهرست ........................................................... Error! Bookmark not defined.

د احاديثو فهرست........................................................... Error! Bookmark not defined.

د اعلامو او شخصيتونو فهرست ........................................... Error! Bookmark not defined.

د مصادرو اومراجعو فهرست........................................................................... 12

SUMMARY ............................................................ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

## نتائج

د دې تحقیق او څیړنې نتائج په لاندې توګه دی:

1. امام عبدالرزاق بن همام په یمن کې په یوه علمي کورنۍ کې په( ۱۲۶) هجري کې سترګې نړۍ په داسې حال کې وغړولی چې دعباسي خلافت لومړۍ مرحله وه ، امام عبدالرزاق بن همام په داسې وخت کې وزیږلو چې د اکابرو تابعینو زمانه تیره شوی وه او د اصاغرو تابعینو وروستۍ ورځې وي او دتبع تابعینو زمانه وه.
2. امام عبدالرزاق په داسې وخت کې نړۍ ته سترګې وغړولې چې دآحادیثو مدرسې په حجاز ، عراق، شام او مصر کې موجود وې او په یمن کې د معمر بن راشد د آحادیثو حلقې ته د هر لورې محدثین راتلل.
3. امام عبدالرزاق خپلې لومړۍ زدکړې د معمر بن راشـد د مجلس څخه پیل کړی او بیا یې د خپلې علمي پانګې د زیاتوالی لپاره حجاز ته، شام او عراق ته سفرونه وکړل.
4. امام عبدالرزاق استادان او شیوخ د آحادیثو او روایت په برخه کې د خپل وخت منلې او ثقه وړ شخصیتونه وو.
5. د امام عبدالرزاق وخت او عصرــ په سـیاسي لحاظ نسـبتا یو مسـتقر عصرــ و، چې له دې څخه یمن هم ګټه واخیسته.
6. په دې عصرـ کې ډیرې ډلې او فرقې رامنځته شـوې چې احادیثو باندې یې ډیر اغېز وکړ، هغه دا چې موضـوعي حدیث یې را منځته کړل.
7. د موضـوعي احادیثو د مقابلې لپاره علماء دا هڅې وکړې چې نبوي احادیث یې ولیکل، چې د هغو لیکنو څخه یو هم د عبدالرزاق مصنف دی.
8. همدا ډول دا عصر په علمي لحاظ ډیر روښانه عصر ګڼل کېږي.
9. عبدالرزاق په صـــنعاء کې په یوه علمي کورنۍ کې زېږېدلی، او په لس کلنی کې یې د علم زده کړې ته مټې رانغښتلې دي.
10. د عباسي دولت په أوج کې یې ژوند کاوه، چې د ســـنت د تدوین او په هغه باندې د اهتمام زمینه برابره وه، چې عبدالرزاق خپل مصنف پکې تدوین کړ.
11. د عبدالرزاق اکثره روایتونو دشیخ معمر بن راشد څخه دي، چې د مصنف ثلث (دریمه) برخه تشکیلوي.

12. دامام عبدالرزاق اکثره استادان ثقه کسان دي او ډېر کم کسان دي چې د هغوی کې ضعف دی او د هغه په استادانو کې امام ابوحنیفه ، امام مالک او امام احمد بن حنبل شامل دي. همدا راز هغه د ابن جریج، ثوري او ابن عیینه څخه هم ډېر روایت کوي.

13. علماوو د عبدالرزاق په علم او حفظ باندې ثناء ویلي او هغه یې ستایلي دي، ده ته د نورو ځایونو څخه د علم زده کړې په موخه شاګردان راغلي، چې د ده په شاګردانو کې د امام بخاري او امام مسلم شیوخ هم راځي.

14. امام عبدالرزاق د ژوند په آخر وخت کې د سترګو په ناروغۍ مبتلا او د سترګو د نعمت څخه بې برخې شو.

15. د عبدالرزاق بن همام په حافظه کې د ده د ړوندوالي له وجهې اختلاط پیدا شو، خو د ړوندوالي مخکې کوم أحادیث یې چې لیکلي دي د هغو په صحت کې هیڅ شک نشته.

16. عبدالرزاق په شیعه توب کې غلو ته نه دی رسېدلی.

17. عبدالرزاق بن همام په تدلیس سره متهم شوی، خو أئمه وو د ده تدلیس قبول کړی.

18. د عبدالرزاق مصنف او جامع دواړه یو کتاب دی چې په آخر کې یې د معمر بن راشد جامع هم ورسره یو ځای کړی دی.

19. امام عبدالرزاق د مصنف څخه پرته په أحادیثو او نورو علومو کې هم تألیفات لري چې مخکې مو د هغو نومونه ذکر کړل.

20. مصنفات هغو کتابونو ته ویل کېږي چې د فقهې د بابونو په ترتیب سره تألیف شوي وي، چې یو له هغو څخه د عبدالرزاق مصنف دی.

21. د عبدالرزاق مصنف د مؤلف هغه مېوه ده چې په نبوي أحادیث په کې راټول شوي دي.

22. مصنف په فقهي موضوعاتو باندې مشتمل دی، او د معمر الجامع یې په دې موخه ورسره اضافه کړی دی چې د دین نورې برخې تکمیل شي.

23. عبدالرزاق بن همام پخپل مصنف کې درېیمه برخه د أحادیثو یې د معمر بن راشد څخه روایت کړي دي.

24. علماء کرامو د عبدالرزاق د أحادیثو په عموم کې او د مصنف د احادیثو په ځانګړي ډول ستاینه کړې ده.

25. په مصنف کې د معمر د جامع پرته د همام بن منبه د صحیفې څخه هم أحادیث روایت شوي دي، همدارنګه دعبدالله بن عمرو، جابر بن عبدالله اومجاهدبن جبر له صحیفو څخه هم أحادیث روایت شوي دي.

26. مصنف په لاندې اقوالو مشتمل دی: د نبي علیه السلام قول، د صحابه کرامو أقوا، د تابعینو او تبع التابعینو أقوال، همدارنګه د شیوخو او خپله د عبدالرزاق په أقوالو باندې مشتمل دی.

27. امام عبدالرزاق بن همام خپل مصنف د فقهي بابونو په ترتيب تألیف کړی دی.

28. عبدالرزاق مصنف د امام ذهبي د قول مطابق د علم لویه خزانه ګڼل کېږي.

29. عبدالرزاق په خپل مصنف کې د لوړې درجې شيوخ ذکر کړي دي.

30. ا مو هم وپېژندل چې کوم بابونه عبدالرزاق ايشي دي د يو او بل سره ارتباط او تړاو لري.

31. د عبدالرزاق مصنف د متابعات، موقوف، مقطوع ، مرسل احاديثو د پيداکولو لپاره غوره مرجع ده.

32. د عبدالرزاق مصنف دشيخ له ادرسه دحديث پيدا کولو او تخريج لپاره غوره مرجع ده.

33. امام عبدالرزاق د خپلو شروطو په اړه نه دی ليکلي، خو د هغه په کتاب کې د تتبع او څېړنې څخه معلومېږي چې د هغه اکثره راويان د لومړۍ درجې ثقه راويانو له جملې څخه دي.

34. دامام عبدالرزاق په مصنف کې ضعيفه راويان هم شته او هغه هغه سندونه هم ذکر کړي دي چې ابهام په کې پروت دی. همدا راز هغه په خپل مصنف کې منقطع ، موقوف او مقطوع روايونه نقل کړي دی.

35. د امام عبدالرزاق په راويانو کې داسې ضعيفه راويان نشته چې احاديث يې نه ليکل کيږي.

36. امام عبدالرزاق خپل شيوخ يو پر بل عطف کوي. چې د شيوخو د عطف څخه د هغه مقصد اختصار دی او هغه څوک چې عبدالرزاق يي په خپلو شيوخو عطف کوي هغه يا ثقه وي او يا هغه څوک وي چې د هغه حديث د ليکلو قابليت لري.

37. همدا راز هغه کله ناکله سندونه يو پر بل عطف کوي.

38. عبدالرزاق په مصنف کې ځينې وخت د آحاديثو لپاره متابعات ذکر کوي.

39. عبدالرزاق د تحمل صيغې لکه : (اخبرنا، انا، حدثنا، اخبرني، حدثث، سمعت، قال، ذکر ، عن). ذکر کړي او د عبدالرزاق په نزد د (اخبرنا) او (حدثنا) ترمنځ کوم توپير نشته.

40. امام عبدالرزاق په روايتونو کې ډير دقت څخه کار اخلي لکه : د مبهم روايتونو ذکر کول، په شک سره ذکر کول، په سند کې د علت بيانول، د يو کس او ريدل، او په ډلييزه توګه د روايت اوريدلو کې د روايت په لفظ کې توپير کوي.

41. عبدالرزاق په خپل مصنف کې نورې ګڼې اسنادې قضاوې ذکر کړي دي خو دا د هغه منهج برخه نه ده، لکه : بيان د سند علو، د مبهم راوي بيانول، په سند کې د علت بيانول او په سندکې اختصار ته اشاره.

42. د امام عبدالرزاق مصنف لکه د نورو سننو او جوامعو کتابونو په څیر پر کتابونو او بابونو مشتمل مصنف دی او داسـې نه ده چې امام عبدالرزاق یواځې حدیثونه راټول کړي دي او د فقهي مسـائلو سره تړاو نلری ، بلکې امام عبدالرزاق فقه او تراجم الابواب ته په کې ځای ور کړی دی.

43. د امام عبدالرزاق په مصنف کې تراجم دامام عبدالرزاق له خوا لیکل شوي دي، نه د بل چا.

44. په مصنف کې دامام عبدالرزاق تراجم په څلور ډوله دي:

الف:ښکاره او ظاهر تراجم.

ب: استنباطي تراجم.

ج: مرسله تراجم.

د:مفرد تراجم.

ښکاره او ظاهر تراجم،

ښکاره ترجمه هم په دوه ډوله ده:

الف: خبري ترجمه.

ب:استفهامي ترجمه.

# پیشنهاد

۱-په اهل علمو کې خپور دی چې د هغه د شيعه توب موضوع ده، په کارده چې ددې بدګمانې ازاله وشي، څکه ددې خبرې د مشهورتيا له امله زيات خلک د هغه د مصنف څخه ځان ساتي او د هغه د کتاب ارزښت يي کم کړی دی.

۲-د مصـطلح الحديث د تدريس پر وخت داحاديثو دپنځو يا شـپږو کتابونو د منهج په اړه خلک معلومات لري، خو دمصــنفاتو د منهجونو يادول او پر هغې بحث کول له نظره لويدلي دي ، په کارده چې د عبدالرزاق د اســنادي او فقهي منهج څخه علماء او محـصلين خبرشي او ددوی د منهجونو تدريس په درسيي موادو کې ور زيات کړل شي، څکه دامام عبدالرزاق منهج دآحاديثو د زياتو کتابونو په پرتله غوره منهج دی.

۳-داچې د آحاديثو ځينې کتابونه ځينې برخې په ځينو پوهنځيو کې تدريس کيږي ترڅو محلصــين د هغه کتاب او د ةړلف له منهج سره ا شنا شي ، په کارده چې د عبدالرزاق دمصنف ځينې برخې هم تدريس شي ترڅو محصلين د مصنف د منهج سره اشنا شي.

۴-که چيرې دليســانس او ماســترى محصــلينو ته د عبدالرزاق د مصــنف ځينې کتابونه د څيړنې لپاره دمنوګراف او تيزس د ليکلو لپاره ورکړل شي دا به غوره وي.

## د مصادرو اومراجعو فهرست

- قرآن كريم

١- ابن ابي خيثمة، ابو بكر احمد بن ابي خيثمة (المتوفى: 279هـ) التاريخ الكبير المعروف بتاريخ ابن ابي خيثمة - السفر الثالث. المحقق: صلاح بن فتحي هلال( الناشر: الفاروق الحديثة للطباعة والنشر – القاهرة،الطبعة: الاولى، 1427 هـ - 2006 م).عدد المجلدات: 4 (3 ومجلد فهارس).

٢- ابن حجر، ابو الفضل احمد بن علي بن محمد بن احمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ) تهذيب التهذيب.(الناشر: مطبعة دائرة المعارف النظامية، الهند،الطبعة: الطبعة الاولى، 1326هـ). عدد الاجزاء: 12.

٣- ابن حجر، ابو الفضل احمد بن علي بن محمد بن احمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ) تقريب التهذيب.المحقق: محمد عوامة.الناشر: دار الرشيد – سوريا،الطبعة: الاولى، 1406 – 1986). عدد الاجزاء:١.

٤- ابن حجر، ابو الفضل احمد بن علي بن محمد بن احمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852هـ) تعريف اهل التقديس بمراتب الموصوفين بالتدليس.المحقق: د. عاصم بن عبدالله القريوتي(الناشر: مكتبة المنار – عمان،الطبعة: الاولى، 1403 – 1983م). عدد الاجزاء: 1.

٥-ابن حجر، الامام الحافظ شيخ الاسلام شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلاني (ت: 528 هـ )هدي الساري مقدمة فتح الباري (صفحة: ١١)

٦- ابن كثير،ابو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي (المتوفى: 774هـ) البداية والنهاية.المحقق: علي شيري،(الناشر: دار إحياء التراث العربي،الطبعة: الاولى 1408، هـ - 1988 م).

٧- ابن حبان،محمد بن حبان بن احمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، ابو حاتم، البُستي (المتوفى: 354هـ) الثقات.(الناشر: دائرة المعارف العثمانية بحيدر آباد الدكن الهند،الطبعة: الاولى، 1393 ه 1973).

8-ابن حبان ،محمد بن حبان بن احمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، ابو حاتم، البُستي (المتوفى: 354هـ) مشاهير علماء الامصار واعلام فقهاء الاقطار،(الناشر: دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع – المنصورة،الطبعة: الاولى 1411 هـ - 1991 م). عدد الاجزاء: 1.

٩-ابن حبان؛ محمد بن حبان بن احمد ابى حاتم التيميمى البستى المتوفى سنة 354 هـ، المجروحين من المحدثين والضعفاء والمتروكين ج١، ص:٢٢٩، تحقيق: محمود ابراهيم زايد.

١٠- ابن ابى حاتم، عبد الرحمن بن محمد بن إدريس بن المنذر التميمي، الحنظلي، الرازي ابن ابي حاتم (المتوفى: 327هـــــ) الجرح والتعديل( الناشر: طبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية - بحيدر آباد الدكن – الهند،دار إحياء التراث العربي – بيروت،الطبعة: الاولى، 1271 هـ 1952 م).

١١-البخاري، شيخ الا سلام جبل الحفظ وإمام الدنيا أبى عبد الله محمد بن ا سماعيل بن ابراهيم الجعفي البخاري (ت: 256هـ) التاريخ الكبير ج٩، ص:٩

12-الكواكب النيرات في معرفة من الرواة الثقات(ص: 273). المحقق : عبد القيوم عبد رب النبي.الناشر : دار المأمون ـ بيروت.الطبعة : الأولى ـ 1981م

13-ابن معين، يحيى بن معين أبو زكريا تاريخ ابن معين برواية الدوري، ج٣، ص: ٧٦، الناشر : مركز البحث العلمي وإحياء التراث الإسلامي - مكة المكرم الطبعة الأولى ، 1399 – 1979 تحقيق : د. أحمد محمد نور سيف.

١٤- البغدادي، ابو عبد الله محمد بن سعد بن منيع الهاشمي بالولاء، البصري، البغدادي المعروف بابن سعد (المتوفى: 230هـــــ) الطبقات الكبرى.تحقيق: محمد عبد القادر عطا(الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت،الطبعة: الاولى، 1410 هـ - 1990 م). عدد الاجزاء: 8.

١٥- البغدادي، زين الدين عبد الرحمن بن احمد بن رجب بن الحسن، السَلامي، البغدادي، ثم الدمشقي، الحنبلي (المتوفى: 795هــــ) شرح علل الترمذي.المحقق: الدكتور همام عبد الرحيم سعيد.(الناشر: مكتبة المنار - الزرقاء – الاردن الطبعة: الاولى، 1407هـ - 1987م).

١٦-البغوي، محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء البغوي الشافعي (ت: 516هــــ) شرح السنة متنا وشرحا ج٣، ص: ٢٦٨. تحقيق: شعيب الأرنؤوط-محمد زهير الشاويش. الناشر: المكتب الإسلامي - دمشق، بيروت.الطبعة: الثانية، 1403هـ - 1983م

١٧-الخطابى، أبو سليمان أحمد بن محمد الخطابي البستي( ٢٨٨هـ)معالم السنن شرح سنن ابي داوود (ص: ٧٨).الناشر : المطبعة العلمية – حلب. الطبعة الأولى 1351 هـ - 1932 م

١٨- الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، ابو عيسى (المتوفى: 279هـــــ) علل الترمذي الكبير.(الناشر: عالم الكتب , مكتبة النهضة العربية – بيروت،الطبعة: الاولى، 1409). عدد الاجزاء: 1.

١٩- الجرجاني،ابو احمد بن عدي الجرجاني (المتوفى: 365هـــــ) الكامل في ضعفاء الرجال.تحقيق: عادل احمد عبد الموجود-علي محمد معوض.(الناشر: الكتب العلمية - بيروت-لبنان، الطبعة: الاولى، 1418هـ1997م).

٢٠- الحاج خليفة،مصطفى بن عبد الله كاتب جلبي القسطنطيني المشهور با سم حاجي خليفة او الحاج خليفة (المتوفى: 1067هـ) كشف الظنون عن اسامي الكتب والفنون.(الناشر: مكتبة المثنى –بغداد،تاريخ النشر: 1941م)

٢١- الحموي، شهاب الدين ابو عبد الله ياقوت بن عبد الله الرومي (المتوفى: 626هـ) معجم البلدان.(الناشر: دار صادر، بيروت،الطبعة: الثانية، 1995 م).

٢٢- الخطيب، ابو بكر احمد بن علي بن ثابت بن احمد بن مهدي الخطيب البغدادي (المتوفى: 463هـ) تاريخ بغداد. المحقق: الدكتور بشار عواد معروف،(الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت،الطبعة: الاولى، 1422هـ - 2002 م).

٢٣- الخطيب، ابو بكر احمد بن علي بن ثابت بن احمد بن مهدي الخطيب البغدادي (المتوفى: 463هـ) الكفاية في علم الرواية،المحقق: ابو عبدالله السورقي , إبراهيم حمدي المدني(الناشر: المكتبة العلمية - المدينة المنورة).

٢٤-الخطيب، أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي أبو بكر الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع ج ٤، ص: ٢٩٧ الناشر : مكتبة المعارف - الرياض ، 1403تحقيق : د. محمود الطحان.

٢٥-الدهلوي، الإمام أحمد المعروف بشاه ولي الله ابن عبد الرحيم الدهلوي. حجة الله البالغة (صفحة: 284)تحقيق سيد سابق الناشر دار الكتب الحديثة - مكتبة المثنى مكان النشر القاهرة – بغداد.

٢٦- الذهبي، شمس الدين ابو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ) ميزان الاعتدال في نقد الرجال،تحقيق: علي محمد البجاوي(الناشر: دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت – لبنان،الطبعة: الاولى، 1382 هـ - 1963 م). عدد الاجزاء: 4.

٢٧- الذهبي،شمس الدين ابو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ) تذكرة الحفاظ(الناشر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان،الطبعة: الاولى، 1419هـ- 1998م). عدد الاجزاء:4

٢٨- الذهبي، شمس الدين ابو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ) سير اعلام النبلاء(الناشر: دار الحديث- القاهرة،الطبعة: 1427هـ-2006م). عدد الاجزاء: 18.

٢٩-الذهبي، محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي أبو عبد الله (ت: 748هـ)، ذكر من تكلم فيه وهو موثق (صفحة: 112) تحقيق: محمد شكور أمرير المياديني.الناشر مكتبة المنار.سنة النشر 1406.مكان النشر الزرقاء.

٣٠- الذهبي، الامام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي (ت: 748 هـ) سير اعلام النبلاءج١١، ص: ١٨. أشرف على تحقيق الكتاب وخرج أحاديثه : شعيب الارنؤوط. مؤسسة الرسالة. الطبعة التاسعة 1413 ه 1993 م مؤسسة الرسالة بيروت

٣١- الزركلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزركلي الدمشقي (المتوفى: 1396هـ) الاعلام. الناشر: دار العلم للملايين،الطبعة: الخامسة عشر - ايار / مايو 2002 م).

٣٢- السـيوطي،عبد الرحمن بن ابي بكر، جلال الدين السـيوطي (المتوفى: 911هــــ) تاريخ الخلفاء. المحقق: حمدي الدمرداش ( الناشر: مكتبة نزار مصطفى الباز،الطبعة: الطبعة الاولى: 1425هـ-2004م). عدد الاجزاء: 1.

٣٣- الشهرستاني،ابو الفتح محمد بن عبد الكريم بن ابى بكر احمد الشهرستاني (المتوفى: 548هـ) الملل والنحل.(الناشر: مؤسسة الحلبي). عدد الاجزاء: 3.

٣٤- الشـيباني، ابو عبد الله احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسـد الشـيباني (المتوفى: 241هــــ) العلل ومعرفة الرجال.المحقق: وصي الله بن محمد عباس( الناشر: دار الخاني , الرياض،الطبعة: الثانية، 1422 هــــ - 201 م).عدد الاجزاء: 3.

٣٥-عجين، منهج عبدالرزاق في مصنفه لاسماء ابراهيم سعود عجين، صفحة:١٦٣، المكتبة الاسلامية للنشر والتوزيع – القاهرة.

٣٦- القلقشندي،احمد بن علي بن احمد الفزاري القلقشندي ثم القاهري (المتوفى: 821هــ) صبح الاعشى في صناعة الإنشاء.(الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت). عدد الاجزاء: 15.

٣٧- الكتاني،ابو عبد الله محمد بن ابي الفيض جعفر بن إدريس الحسـني الإدريسيـ الشـهير بــــ الكتاني (المتوفى: 1345هــ) الرسالة المستطرفة لبيان مشهور كتب السنة المشرفة،المحقق: محمد المنتصر بن محمد الزمزمي(الناشر: دار البشائر الإسلامية،الطبعة: السادسة 1421هـ-2000م). عدد الاجزاء: 1.

٣٨-المحامي، محمد فريد (بك) ابن احمد فريد (باشــا) ، المحامي (المتوفى: 1338هــــ) تاريخ الدولة العلية العثمانية. المحقق: إحسان حقي.(الناشر: دار النفائس، بيروت – لبنان،الطبعة: الاولى، 1401 – 1981). عدد الاجزاء: 1.

٣٩-المزى، يو سف بن الزكي عبدالرحمن أبو الحجاج المزي تهذيب الكمال، ج٦، ص:٢٧٠، الناشر : مؤ سسة الرسالة – بيروت الطبعة الأولى. تحقيق : د. بشار عواد معروف

٤٠- المقريزى، تقي الدين أحمد بن علي المقريزي (ت: 845هــ)، مختصر الكامل في الضعفاء ( صفحة: 552)، تحقيق أيمن بن عارف الدمشقي الناشر مكتبة السنة سنة النشر 1415هــــ - 1994م مكان النشر مصر / القاهرة. -ابن حجر، تهذيب التهذيب (11/ 229).

٤١ - النسائي، للامام أبى عبد الرحمن أحمد بن شعيب النسائي. الضعفاء والمتروكين (ص: 147)، المحقق : بوران الضناوي + كمال يوسف الحوت دار النشر : مؤسسة الكتب الثقافية.البلد : بيروت الطبعة : الأولى –

۴۲-العقیلی، الحافظ ابي جعفر محمد بن عمرو بن موسى بن حماد العقيلي المكي. كتاب الضـعفاء الكبير ج۲، ص: ۹ 3،
حققه ووثقه: الدكتور عبد المعطى أمين قلعجي منشـــورات محمد علي بيضـــون دار الكتب العلمية بيروت – لبنان
الطبعة الثانية 1418 ه - 1998 م دار الكتب العلمية بيروت -
۴۳-الهيثمي، الحافظ نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي (ت: 807)، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ج۱، ص: ۲۴۴

**بخاطر دسترسی به متن کامل این تحقیق مراجعه شود به:**

**پوهنتون سلام، کتابخانهٔ مرکزی چهار راهی گل سرخ، سرک کلوله پشته**

**و یا هم به ایمیل آدرس ذیل تماس گرفته شود:**

**salamresearchcentre@salam.edu.af**